مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۳/۰۸

غزل

لا ژوندو کښې حسابېږم ما کښې زور شته، راته ګوره
لا ژوندی یم، لا ژوندی یم، ما کښې شور شته، راته ګوره

د مستیو جنازه ده د خندا ساه په وتو ده
زه له ډېره غمه وسوم را کښې اور شته، راته ګوره

لا وحشت برلاسی ښکاري خو کېسه تمامه نه ده
دا سنګر ساتم تر هغې څو دا پور شته، راته ګوره

د مطرب نغمه بدله، غږوي د غم سازونه
د غم سازه ورکوم دې لا مې کور شته، راته ګوره

خبردار شه پسرلیه، بیا په وینو لمبوي تا
ستا وینا ته لا په قام کښې ذهن تور شته، راته ګوره

مصطفی پسرلی
05/March/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ